مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰۱/۲۹

تـوپـک – قـلـم

لـیـونی نه یـم، چی تـوپـک کـیږدم قـلـم واخـلـم
هسی هوښیاریمه، خوښي وژنم چی غم واخلم

ماته به نه وایی، چی مینه وکړه مینه واخـلـه
زه دیته جوړیم، چی په سـر د پردی غم واخلم

د زمانـي هـریو، تـوفان کـړي حـمـلـه ده په ما
زخمونه ډیردي، زه کوم زخم ته ملهم واخـلـم

د شبنم هر څاڅکی، می باغ ته په ږلی بدل شو
شمه دی ګونګ، که بیا په خوله نوم د شبنم واخلم

د اُمیـدو په دروازه کی، د یار نـوم پـروت دی
د یار په نوم، څنـګه پښـه کـیږدم قـدم واخـلـم

یا چي منصورپه څیر،د دارسرته می یارخیژوی
څنګه د حـق لار کی، خـطـر د بل صنـم واخـلـم

تـوپـک می وروردی، کلیوال پښتون ته لارمه ښایه
بـدې خورنه یـم، چی د تـوپـک په ځای قـلـم واخلم

دسمبر/۲۰۲۱/۲۲
ایجکس – تورنټو - کانادا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ